هغو کسانو ته وګورئ چې له تاسو څخه ټیټ دي، او هغو کسانو ته مه ګورئ چې له تاسو نه لوړ دي؛ دا کار د دې لپاره ډېر مناسب دی چې تاسو د الله تعالی نعمتونه کم ونه ګڼئ

له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «هغو کسانو ته وګورئ چې له تاسو څخه ټیټ دي، او هغو کسانو ته مه ګورئ چې له تاسو نه لوړ دي؛ دا کار د دې لپاره ډېر مناسب دی چې تاسو د الله تعالی نعمتونه کم ونه ګڼئ».

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم مسلمان ته امر کړی چې د دنیا په چارو کې — لکه مقام، مال، شهرت او نورو کې — هغه کسانو ته وګوري چې حالت یې له ده ټیټ وي، نه هغو کسانو ته چې له حالت یې له ده لوړ او غوره وي؛ ځکه هغو خلکو ته کتل چې حالت یې له ده ټیټ وي ډېر مناسب او غوره کار دی، تر څو د الله نعمتونه چې ورکړل شوي کم او بې ارزښته ونه ګڼي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5341